**بسم الله الرحمن الرحیم**

## امریکا د اوربند په مرسته د یهودو لپاره ځیرک پلان پلی کړی: د لیطاني سیند شمال ته د ایران د حزب شاتګ او د دوو جبهو ترمنځ درځ!

**(ژباړه)**

د ۲۰۲۴ کال د نومبر په ۲۷مه نېټه، د لبنان په جبهه کې د یهودي رژیم او د ایران د حزب ترمنځ اوربند وشو. د دې اوربند له شرایطو څخه یو دا و چې اشغالګر رژیم به له سویلي لبنان څخه د دوو میاشتو په موده کې خپل ځواکونه وباسي او د ایران حزب به خپل ځواکونه د لیطاني سیند شمال ته لېږدوي. همدارنګه، که د ایران حزب دغه توافق نقض کړي، نو یهودي رژیم به په سویلي لبنان کې بشپړه ازادي ولري او پر دې سربېره به د لبنان په فضا کې د اشغالګر رژیم جاسوسي او نظارتي الوتنې دوام وکړي.

د الجزیرې د ۲۰۲۴ کال د نومبر د ۲۷مې راپور له مخې، د اوربند د توافق تفصیلات په لاندې ډول دي:
**۱. د ځواکونو شاتګ:** د اسرایلو پوځ به په تدریجي ډول له سویلي لبنان څخه خپل ځواکونه وباسي او دغه بهیر به په ٦۰ ورځو کې بشپړ کړي. حزب الله به خپل ځواکونه د لیطاني سیند شمال ته چې د اسرایلو له پولې څخه شاوخوا ۳۰ کیلومتره لرې دی، انتقال کړي.

د لبنان پوځ به هم خپل ۵ زره ځواکونه د لیطاني سیند په سویل کې ځای پر ځای کړي، چې د اسرایلو له پولې سره نږدې ۳۳ اډې پکې شاملې دي.

۲. **د څارنې میکانیزم:** د دغه توافق د تطبیق څارنه به د درې اړخیز میکانیزم له لارې ترسره کېږي چې له مخکې د ملګرو ملتونو د لنډمهاله ځواک (یونیفل)، د لبنان پوځ، او د اسرایلو پوځ ترمنځ رامنځته شوی و. دغه څارنه به د امریکا او فرانسې په ګډون پراخه شي، او د دې ډلې مشري به امریکا پر غاړه واخلي.

له دغه توافق سره سره، د اشغالګر رژیم کړنې لاهم روانې دي. اشغالګر رژیم څلور کسان چې خپلو کلیو ته ستانه شوي وو، په دغه شک نیولي چې دوی د مقاومت له ځواکونو سره تړاو لري. همدارنګه، د لیطاني سیند په سویل کې یې د تګ راتګ بندیزونه ولګول، داسې ښکاري چې دغه سیمه لاهم د دغه رژیم تر کنټرول لاندې ده.

د الشرق الاوسط ورځپاڼې د ۲۰۲۴ کال د نومبر په ۲۷مه نېټه په خپله ویبپاڼه کې خبر خپو کړ چې: «د اسرایلو پوځ نن (چهارشنبه) اعلان وکړ چې د سویلي لبنان اوسېدونکو لپاره چې د لیطاني سیند سویل ته ځي، به د تګ راتګ بندیز پلی شي. د اسرایلو د پوځ ویاند، آویخای ادرعی، نن (چهارشنبه) عربي رسنیو ته

وویل: په دغو سیمو کې هر ډول حرکت ستاسو ژوند له خطر سره مخ کوي. موږ تاسو ته خبر درکوو چې د نن ماښام له ۵ بجو د سبا سهار تر ۷ بجو پورې د لیطاني سیند سویل ته تګ راتګ مطلق منع دی».

العربیه شبکې هم د ۲۰۲۴ کال د نومبر په ۲۷مه نېټه د توافق د شرطونو په اړه راپور ورکړی: دا تایید شوي موارد دي چې د توافق شرطونه به د سختې څارنې او د امریکا تر مشرتابه لاندې عملي کېږي.

العربیه شبکې د ۲۰۲۴ کال د نومبر په ۲۷مه نېټه د توافق د شرطونو په اړه داسې راپور ورکړ:

**د تحرک او خوځښت حق:** په سویلي سیمه کې اسرایل حق لري چې د تعهداتو د نقض پر وړاندې هر وخت اقدام وکړي. له سویلي سیمې بهر، اسرایل حق لري چې د پرمخ تلونکو ګواښونو پر وړاندې اقدام وکړي؛ دا په هغه صورت کې چې که لبنان ونه توانیږي یا ونه غواړي دغه ګواښونه کنټرول کړي، لکه د سرحدونو او لارو له لارې د ناقانونه وسلو د ننوتلو مخنیوی وکړي.

که اسرایل د داسې اقداماتو پرېکړه وکړي، نو په هر حالت کې به امریکا ته خبر ورکوي. د لبنان په فضا کې د اسرایلو کشفي الوتنې یوازې د استخباراتي، نظارتي او د کشف موخو لپاره ترسره کیږي، او د امکان تر حده به له مستقیم لید څخه پټې وي او د صوتي دېوال له ماتولو به ډډه کوي.

په دې توګه، په لبنان او غزه کې دوې جبهې سره جلا شوې، او د یهودي رژیم تر جلا بریدونو لاندې غزه، پرته له دې چې د لبنان له جبهې ملاتړ ترلاسه کړي، پاتې شوه. امریکا، له یهودي رژیم او د فلسطین ګاونډیو خاینو حکامو سره یوځای، د داسې توافق د ترلاسه کولو لپاره کار کوي چې په غزه کې د یهودو بریا د هغو معیارونو له مخې تضمین کړي چې دوی ټاکلي دي. دغه اقدامات په ښکاره ډول د هغو حکامو پر وړاندې ترسره کیږي چې نه له الله سبحانه وتعالی، نه د هغه له رسول صلی‌الله علیه وسلم او نه له مومنانو څخه وېره لري، او نه له خپل دغه خیانت څخه شرمیږي. پر دوی دې د الله سبحانه وتعالی لعنت وي، څنګه له حق څخه اوړي!

امریکا او د هغې ملګري او مزدوران هڅه کوي چې د ورته موافقې له لارې غزه تجزیه کړي او په غزه، لویدیځه غاړه، قدس او ټول فلسطین کې د یهودو واک ټینګ کړي.

دغه هڅې تر هغې موافقې وروسته پیل شوې چې د لبنان او غزې دوې جبهې یې سره بېلې کړې او د ایران د حزب ځواکونه یې د لیطاني سیند شمال ته په شا کړل. دغه ټول اقدامات د اسلامي خاورو؛ په ځانګړې ډول مصر، اردن، سعودي، ترکیې، ایران، سوریې او عراق، چې فلسطین ته نږدې دي؛ د حکامو د سترګو پر وړاندې ترسره کیږي؛ داسې ښکاري چې دغه حکام بې پرې دي، خو په حقیقت کې د یهودي رژیم پلوي دي! ان ایران هم خپل پوځ د خپل حزب د ملاتړ لپاره لبنان ته ونه لیږه څو له خپلو دریځونو څخه په شا تګ ته اړ نه شي او د غزې ملاتړ وکړي. همدارنګه د مصر او اردن رژیمونو، چې له غزې او لویدیځې غاړې سره په

سرحد کې دي، خپل پوځونه د دغو سیمو د ملاتړ لپاره ونه خوځول، بلکې په قاهره کې سره راټول شول چې د فلسطین د ځمکو پر سر له یهودي رژیم سره مذاکره وکړي. په داسې حال کې چې د دوی اصلي مکلفیت دا دی چې خپل پوځونه د استعمارگرو کفارو له ککړو لاسونو څخه د فلسطین سپېڅلې خاورې ازادولو لپاره وخوځوي.

الیوم السابع ورځپاڼې د ۲۰۲۴ کال د نومبر په ۲۷مه په خپله ویبپاڼه کې ولیکل: «ولسمشر سیسي او د اردن پاچا د فلسطین د ځمکې د تحولاتو په اړه د دریځونو همغږي کولو هڅې وڅیړلې». خو د اسرایلو له وحشتونو څخه د فلسطین د مظلومو خلکو د ازادولو او ملاتړ لپاره یې یوه خبره هم ونه کړه!

**اې مسلمانانو!**

موږ ښه پوهېږو چې د یهودو رژیم د جگړې اهل نه دی؛ ځکه چې ذلت او خواري پرې حاکمه شوې ده:

**﴿وَإِنْ يُقَاتِلُوكُمْ يُوَلُّوكُمُ الْأَدْبَارَ ثُمَّ لَا يُنْصَرُونَ (١١١) ضُرِبَتْ عَلَيْهِمُ الذِّلَّةُ أَيْنَ مَا ثُقِفُوا إِلَّا بِحَبْلٍ مِنَ اللهِ وَحَبْلٍ مِنَ النَّاسِ﴾ [آل عمران: 111 او 112]**

*__ژباړه:__ که دوی له تاسو سره وجنگېږي، نو تاسو ته به شا کړي او له هېڅ لوري به مرسته ورته ونه رسېږي. دوی چې هر ځای وموندل شي، نو ذلت به پرې مسلط وي؛ مگر دا چې د الله پر رسۍ او د خلکو پر رسۍ منگولې ولگوي.*

بې‌غیرتي د دوی په زړه کې ریښې غځولې دي او یوازې د الله او خلکو پر رسۍ باندې په منگولو ټینگولو سره پر ځای پاتې کېدلی شي. له الله سره یې رسۍ د خپلو پیغمبرانو د وژلو راهیسې پرې شوې ده او یوازې د خلکو پر رسۍ چې واگې یې د امریکا په لاس کې دي، تکیه کړې ده. د اسلامي خاورو د حکامو خیانت هم له دې رسۍ سره مرسته کړې ده. له دغو ملاتړو پرته د یهودو رژیم د غښې له ځالې څخه هم کمزوری دی. د دغه حقیقت شواهد ښکاره دي؛ ځکه د هغو ډلو پر وړاندې له ۴۰۰ ورځو زیات وخت جنگېږي، چې نه الوتکه لري او نه هم ټانک.

همدارنگه موږ پوهېږو چې د یهودي رژیم د ریښو ایستل او له منځه وړل، د مقاومت ډلو په جگړې سره امکان نه لري. یوازینۍ لاره دا ده چې پوځونه په حرکت راشي؛ لکه څنگه چې الله سبحانه وتعالی فرمایلي دي:

**﴿فَإِمَّا تَثْقَفَنَّهُمْ فِي الْحَرْبِ فَشَرِّدْ بِهِم مَّنْ خَلْفَهُمْ لَعَلَّهُمْ يَذَّكَّرُونَ﴾** [انفال: 57]

*ژباړه: که هغوی دې په جګړه کې پیدا کړل او پرې مسلط شوې، نو هغوی داسې وځپه چې هغه خلک هم ترې عبرت واخلي (تیت او پرک شي)، کوم چې د دوی تر شا ولاړ دي (ملاتړ یې کوي).*

استعمارګران دغه حقیقت پېژني او په همدغه دلیل د اسلامي خاورو حکامو ته پرېکنده او قاطع دستورونه ورکوي، چې پوځونه په نظامي اډو کې ایسار کړي. له همدې امله د استعمارګرو په ځانګړې توګه امریکا استازي له قطر څخه مصر، اردن، عربستان او ترکیې ته سفر کوي، ترڅو ډاډه شي چې دغو مزدورو حکامو د دوی دستورونه پر ځای کړي او پوځونه یې له هر ډول حرکت پرته په اډو کې خوندي کړي دي!

**اې مسلمانانو او اې د مسلمانانو پوځونو سرتېرو!**

د دغه امت مصیبت د دوی په حکامو کې دی. دوی په خپلو سترګو د شهیدانو جسدونهویني، په خپلو غوږونو د ماشومانو چیغې اوري او هغه خلک ویني چې د ښځو او ماشومانو په ګډون له خپلو کورونو بې‌ځایه کېږي. دوی دغه ټولې دردناکې پېښې لیدلې او اورېدلې دي؛ خو غیرت او شرف یې نه دی راویښ شوی!

دا ټول په داسې حال کې دي چې دغو حکامو د یهودو د رژیم شاوخوا داسې کړۍ را تاو کړې، لکه لاسبند چې تر مړوند راتاو شوی وي؛ خو خپل پوځونه په حرکت نه راولي او د مسلمانانو د مرستې غوښتنې ته ځواب نه وایي. هغوی ځانونه ذلیل او خوار کړي دي او دا څه بد حالت دی چې یو ژوندی انسان د نورو د ټپونو او زخمونو درد نشي حس کولی!

**اې د اسلامي پوځونو سرتېرو!**

تاسو پوهېږئ چې فلسطین یوه مبارکه خاوره ده او په دې کې هېڅ شک نشته دی؛ هغه اسلامي خاوره چې یهود باید هېڅ ډول واک پرې ونه لري. د دوو دولتونو حللاره هم په دې خاوره کې ځای نه لري. لکه څنګه چې عمر فاروق هغه فتحه کړه، راشده خلفاوو خوندي کړه، صلاح‌الدین ازاده کړه او عبدالحمید له یهودو څخه وساتله، همداسې به دا خاوره یو ځل بیا د الله سبحانه وتعالی د ربنتینو سرتېرو په هڅه را وګرځي. دوی به د هغه امام په مشرۍ، چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم بیرغ به یې په لاس کې نیولی وي، دغه خاوره ازاده کړي او د پیغمبر صلی الله علیه وسلم دغه حدیث به پر ځای کړي:

«**لَتُقَاتِلُنَّ الْيَهُودَ فَلَتَقْتُلُنَّهُمْ**» (مسلم)

*ژباړه: تاسو به خامخا له یهودو سره جنګېږئ، نو هغوی به حتمي وژنئ.*

**اې د مسلمانانو د پوځونو سرتېرو!**

ایا له دوو نېکیو څخه د یوې هیله‌من نه یئ؟

**﴿يَغْفِرْ لَكُمْ ذُنُوبَكُمْ وَيُدْخِلْكُمْ جَنَّاتٍ تَجْرِي مِن تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ وَمَسَاكِنَ طَيِّبَةً فِي جَنَّاتِ عَدْنٍ ذَٰلِكَ الْفَوْزُ الْعَظِيمُ (١٢) وَأُخْرَىٰ تُحِبُّونَهَا نَصْرٌ مِّنَ اللَّهِ وَفَتْحٌ قَرِيبٌ وَبَشِّرِ الْمُؤْمِنِينَ﴾** [صف: 12-13]

***ژباړه:*** *(که چېرې د الله سبحانه وتعالی په لاره کې جهاد وکړئ) ستاسو ګناهونه به وبښي او تاسو به د جنت هغو باغونو ته داخل کړي، چې تر (مانیو او ونو) لاندې یې روانې ویالې دي او تاسو ته به په غوره کورونو کې ځای درکړي، چې د جنت په باغونو کې د تل لپاره جوړ شوي دي. دا تر ټولو لوی بریالیتوب دی. (پر دغو نعمتونو سربېره) نور نعمتونه هم لرئ، چې نږدې بریالیتوب او فتحه ده او (اې پیغمبره!) مومنانو ته د همدې زېری ورکړه.*

**اې د مسلمانانو د پوځونو سرتېرو!**

د دې مبارکې خاورې د ملاتړ لپاره حرکت وکړئ، ترڅو یو ځل بیا دغه مبارکه خاوره د اسلام پر کور بدله شي. الله د هغه چا مرسته کوي، څوک چې د هغه (د هغه د شعایرو) مرسته وکړي:

**﴿وَلَيَنصُرَنَّ اللَّهُ مَن يَنصُرُهُ إِنَّ اللَّهَ لَقَوِيٌّ عَزِيزٌ﴾ [حج: ۴۰]**

*ژباړه: او الله حتمي د هغه چا مرسته کوي، څوک چې د هغه (د دین) مرسته وکړي، الله (سبحانه وتعالی) ځواکمن او برلاسی دی.*

**حزب‌التحریر**

**د ۱۴۴۶هـ.ق کال د جمادی‌الاولی ۲۷مه**

**۲۰۲۴م کال د نومبر ۲۹مه**

**ژباړن: صهیب منصور**